مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر ۲۰۲۳/۰۳/۲۲

# دا دومره سر ښيدني او د بيګناه خلکو وژني

## د همدې له پاره؟

په لنګۍ کې تاسي بمونه کېښودل ، او پرې خود کُشه حملي تاسي وکړې ،تاسي د لنګۍ هغه حيثيت ته چې د افغان په کلتور کې يې لري هم ونه کتل ، او پام مو ونه ساته ، تاسو طالبانو په قرآن شريف کې څو څو ځلي بمونه ځاي پر ځای کړل ، چې ډيرۍ و ته يې تاسي چاودني ورکړي ، او ډيری يې ، د مخی له چاودنې ګرفتاره شول ،او ثابته شوه ، چې يوه وسيله د چاودنې له پاره ستاسو همدا ده، چې دا کار هيڅ مسلمان نه کوی خو تاسي وکړ ،په جوماتونو کې په سل هاو ځلي خود کشه حملي وشوی ،او انتحاری حملی وشوی ، او ډيرمسلمانان په کې د لمانځه په وخت شهيدان شول و چې دا کار ستاسو د مسلمانۍ ادعا هم رَدوی په مکتبونو او ښونځيو کې بمونه کيښودل شوي ،او مکتبونه په بمونو او انتحاری حملو والوزول شول ،چې يو هم نه په سلګونو مکتبونه ، چې په دې کار سره تاسي طالبانو خپل ځانونه د تعليم او تربيي مخالفين هم په ډاګه وښوده ،او پلونه او پلچکونه مو والوزول ،نه مو روژه وليده او نه مو اختر وليده ،د ودونو په مراسمو او خوښيو په مراسومو کې مو په څو څو ځلي انتحاری خود کشه حملي وکړې ، اوس بايد تاسي طالبان د يو عالي مرام او پلان سره راغلي وای ، نو دا دومره سر شيندني او د بيګناه خلکو وژني د همدې له پاره چې په ماشومانو او ښځو مکتبونه وتړئ د ښځو نه دکار او آزادی د بيان حقوق واخلئ ، په لارو کوڅو کې ځوانان په نامه چې تا ولي ږيره خرييلي ، او يا تا ولی ږيره لنډه کړی تا ولی خپل سنتونه نه دي اصلاح کړي ،په دې نامه زمونږ سر لوړي ځوانان تحقيروئ او بی عزته کوئ ،او په رنګ رنګ روحی او جسمی جزا ورکوئ ، يعني دا ټولي سر شيندني او هځی د قدرت له پاره په همدې خاطراو د همدې له پاره ؟چې د ښځو او جنکو په وړاندی دي مکتبونه او ښوونځي بند شي ،د بيان آزادی دي بند شي ،ښځه د کار کولو حق و نه لري ،حمامونه او پارکونه کورسونه پرې بند شي ،سفرونه او تګ او راتګ پرې بندشي ، دا دومره انسان وژنه او د بشر وژنه د همدې له پاره وه ،تاسي سر په ګريوان کې کړئ او ښه ورته سوچ وکړئ او خپل وجدان ته که لرئ يې مراجعه وکړئ چې همدا دومره بربادي د همدې له پاره وه ،اوس تاسي فکر وکړئ چې د دغه کړنو په رڼا کې او ستاسو کړنو ته د قدرت پر مهال به تاريخ ليکونکي، څه قضاوت وکړي ،زه فکر کوم چې اوس هم ډير وخت لرئ ، او د دي وخت او زمان نه په استفادي سره هغه کارونه تر سره کړئ چې د اسلامی نړۍ او جهانی سياست سره برابری او همغږی ولري ،

۲۰ جون ۲۰۲۲ کال

سيد عبيد الله نادر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ